

ناول

# ګاونډۍ

Ketabton.com

ليکوال: محمد صميم ( فيض)

ډيزاين: محمد کريم (فيضی)

شميره: ۰۷۶۴۱۷۲۶۷۹/۰۷۸۳۵۳۳۴۱۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نـــوم. | ګاونډی (ناول) |
| لیــکـــــوال. | محمد صمیم (فیضی) |
| ډیـــــزاینـــر. | محمد کریم (فیضی) |
| د چاپ کـــال. | ۱۴۰۲/۱/۲۸ |
| د لیکوال شمیره. | ۰۷۸۴۰۰۳۱۵۷ |
| د ډیزاینر شمیره. | ۰۷۸۳۵۳۳۴۱۶ |
| د ډیزاینر بریښنالیک. | Karimullahfaizi3@gmail.com |


که چیری تاسی غواړی خپل کتابونه ته ډیزاین ورکړی

نو له موږ سره په تماس کی شی.... ۰۷۸۶۷۸۸۴۰۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ دی وی!

**زما ګران پلار او خوږې مور جانی ته**

**چی تل یی پر ما زیار ویستی او زه یی هسولی یم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وو نه وو کلونه پخوا په یو ښکلي کلي کی خلک اوسیدل**

**د دی کلي خلک ټول خواري کښه خلک ول یعنی هر چا به جلا جلا دندې درلودلی ځوک پکی ترکاڼ و ځوک به خټګر و او همداسې نور**

**په یاد کلي کې د دولت له طرفه هیڅ کوم ډول کومک نه و شوي**

**لکه داسې پکی مرکزي کلینیک نه و ښوونځی و خو د یاد کلي**
**نه یو څه اندازه لری و نو خلک به ورسره ډیر په ستونزه کی ول**
**نو ددغه کلي نوم وو محسین آباد.**

**په دغه کلي کی موږ هم ژوند کوه کله چی تازه موږ په دی کلي کی ځمکه اخیستو نو شاوخوا ډیر لږ کورنه ول چا جوړ کړی**

**ول او چا تازه آبادی پکی کوله خو خیر موږ هم ورو ورو پکی آبادي پیل کړه**

**د انګړ نه دیوالونه مو چارپیر کړل پلار می یو فلز کار ته ویلي و**
**چی زما د کور لپاره دروازه جوړه کړه هغه ته دی**
**هم خدای خیر ورکړي یوه ښایسته دروازه یی جوړه کړی وه .**

**راموړه او دروازه مو ودروله نور به رو رو داخل د انګړی کوټی جوړی کړی ښه ښایسته رنګ او روغن مو ورته ورکړ بیا ورته ورغلو ژوند همداسې تیریدو**

**زه هم د اوه کلو شوم پلار جان می په**
**ښوونځي کی شامل کړم کتابونه او کتابچی او نور د اړتیا سامان راته واخیست.**

**زه به هم ښوونځي ته ډیر په شوق تلم خو زه دی کلي ته نوی راغلی وم**
**نو زه ما سره نور ملګري نه و خو ورو ورو نوي ملګري می پیدا کړ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هره ورځ به ښوونځي ته تلم او را تلم په دی کی پوره دری کاله تیر شو**

**زه هم په دریم ټولګی کی شوم**

**یوه ورځ ښوونځي نه راغلم ډوډۍ می وخوړه دیوال ته می ډډه ووهله**

**په دی وخت کی دروازه ټک ټک شوه زه ووتلم دروازه می خلاصه کړه**

**ګورم چی یو ښایسته جنۍ توری سترګی خرمایی ویښته**

**سپین مخ لکه د څوارلسمی سپوږمۍ**

**هغه سلام واچوه ما هم علیکم کړ ما ورنه پوښتنه وکړه**

**تاسو څوک یاست او دلته څه کوی؟**

**هغی وویلی: موږ نوی کډه راوړی زموږ په کور کی**

**څاه نشته ځکه ستاسو د کور ور مو وټکوو ما ویل چی تاسو څاه نه اوبه یوسم.**

**جنۍ هم زما په عمر وه زه هم په منډه لاړم**

**کوټی ته مور جانه می لږ څه سابه پاکولی ورته می وویلی:**

**موری زموږ کور ته اوبو پسی زموږ نوی ګاونډۍ**

**راغلی مور می هم راغله ورته یی وویل:**

**ستړی مشی لوری پخیر راغلی هغی هم ورته وویل خیر**

**یوسې مور می تری پوښتنه وکړه چی ستاسو کور چیرته دی**

**هغی جنۍ وویل:**

**همدغی کوڅی په بر سر کی زمونږ کور دی.**

**بیا می مور وویل :ستا نوم او د کوم ولایت نه راغلی یی؟**

**هغی وویل: زما نوم زهرا ده او مونږ د ننګرهار نه نوی کډه راوړی دی کلي ته.**

**مور ورته وویل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تاسو څو کسه په کورنۍ کی یاستی؟**

**هغی وویل:**

**موږ دوه خویندی او دری وروڼه یو مشر ورور می په ننګرهار کی پوهنتون وایي.**

**هغی پسی می دوه نور وروڼه ښوونځي ته ځي. زه هم په دریم ټولګي کی زده کړه کوم بله خور می وړه ده او پلار می د دولت افسر دی.**

**مور وویل:**

**ماشاالله خدای مو همداسی کامیابه لره هغی هم مننه وکړه**

**او سطل یی ډک کړه او ولاړه خپل کور ته .**

**زه همداسی هره ورځ به می ملګرو سره ښوونځي ته تلم او راتلم**

**او پس له ښوونځي کله به می له ملګرو سره لوبو ته تلم ورځی او شپی به می خپل درسونو سره بوخت وم زما نو د موبایلو جوړلو سره زیاد شوق وو**

**ما می پلار جان ته وویل:**

**پلاره خیر دی پس له وخته زه غواړم د موبایلو جوړلو مستریتوب زده کړم ما په ښار کی د کوم مستري سره شاګرد کړه پلار می هم را سره ومنله.**

**زه یی بوتلم ښارته هلته یی یو ملګری چی نوم یی استاد صدیق وو**

**زه یی شاګرد کړم پس له ښوونځي نه به د موبایلو ورکشاپ ته تلم خو یو میاشت وشو ما هم د هر ډول موبایلونه ترمیم کول لږ لږ زده کړي وو.**

**استاد هم پر ما ډیر پام کوو کله چی کور**

**ته راغلم نو سلام می واچوه د مور جانی نه می پوښتنه وکړه؟**

**چی موری هغه زموږ ګاونډۍ اوس هم اوبو پسی راځي او کنه .**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مور وویل:**

**هو ځویه راځي زه به ورته ډیر**
**خوشحاله شوم چې ځه شکر دی چې اوبه خو وړی.**

**خو ورځی او شپې تیریدی زه لږ لږ زلمی شوم خو خپل درسونو ته به می هم پام کوه د څلور نیم میاشتني آزموینه هم پیل شوه د شپې لخواه به می ورته مطالعه کوله. په آزموینو کی به می ښه پارچې حلولی آزموینی هم ښه پای ته ورسیدی.**

**دری ورځی رخصتي شوه ما ویل:**

**ښه نو په دی دری ورځو کی به هغی زهرا جانی**
**ته د مینی لیک ولیکه خو سل زړه می ورته یو کړو او ورته داسې می ولیکل:**

**السَّلَام عَلَيْكُم وَرَحْمَةُ اَللهِ وَبَرَكاتُهُ.**

**پس له سلام نه خدای دی وکړي چی روغ او جوړ اوسی. بیا می ورته دا بیت ولیکه.**

**( دنــګه ونه جــګه پوزه غټې سترګي)**

**(ښکلاګاني خو په تا باندي تمام دي)**

**نور می ورته ولیکل:**

**هغه اوله ورځ چی زموږ کور ته اوبو پسی راغلی وی پس له همغی ورځ نه ما پر تا زړه و بایله نو زه درته صفا وایم چی زهرا جانی مینه در سره لرم.**

**که ستا هم زما په حال زړه سوزي نو ما ته بیرته ځواب راکړه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خو بلاخره ما لیک ورته ولیکه اوس نو دي**
**ته سوچ وړی وم چی دا به زه څنګه ورکړم.**

**ورته خو لیک می پټ په جیب**
**کی کیخوست او لاړم مور څنګ ته ورته می وویل:**

**مور جانی دوه ورځی وشو چی زه په کور کی یم هغه زموږ ننګرهارۍ**
**ګاونډۍ اوبو پسی هم نه راځي داسی راته ښکاري چی مریضه شوی نه وي.**

**مور می خندا وکړه او وویل:**

**داسی نه چی ور باندی مین شوی که څنګه؟**

**ما ورته وویل:**

**نه مور جانی زه او مینتوب ډیره لری خبره ده هڅی می پوښتنه وکړه.**

**مور مي وویلی:**

**هغه مازیګري راځي نو زه خوشحاله شوم..**

**ما ویل:**

**کله چی مازیګر شو لیک ورته د څاه په غاړه ږدم او هغه به یی واخلی.**

**پس له ډیره انتظاره کله چی مازیګر شو زه زر زر کوټی**
**نه ووتم لیک می ورته د څاه په یوه غاړه کیخوست کله چی هغه**
**راغله زه نو ورته د کوټی په کونج کی پټ وم خو هغی سطلونه**
**ډک کړه. په تلو کی یی فکر شو او لیک یی پټ اوچت کړو.**

**زه هم ورته ډیر خوشحاله شوم نور نو خدای (ج) ته می دعا ګانی شروع کړی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خو هله هله په دی کی نو زموږ ښوونځی هم په سبا باندی**

**شروع کیدو. نور زه د نتایجو ته په طمعه وم شپه می په سوچونو کی تیره کړه.**

**او سهار ته ښوونځي ته لاړم ټول ملګري می راغلي وو.**

**ما هم ټولو سره روغبړ وکړو هر چا ویلی:**

**چی اول نمبره به څوک وي؟**

**خو ټول زده کوونکي خپلو ټولګیو ته لاړل.**

**زموږ نګران چی استاد بختیار نومیده راغی ټولو ته یی ښه راغلاست وویل:**

**بس نور نو دنتایجو ویلو ته یی پیل کړو. په اول سر کی وویل:**

**آیا تاسو پوهیږئ؟**

**چی څوک اول نمره ده ټولو وویل: نه استاد وویل:**

**سهراب اول نمره ده.**

**ما باور نه کوه کله چی پارچه یی راکړه نو ګورم اول نمره شوی وم.**

**ټولو ملګرو راته مبارکي راکولی ما هم د ټولو نه مننه وکړه**

**نو راغلم کورته مور می پخلی کولو سلام می واچوو مور ته می وویل:**

**موری زه اول نمره شوی یم مور می مبارکي راکړه**

**او ښکل یی کړم او وویل:**

**شاباس ځویه**

**ما ورته ویل موری اوس می نو پلار جان ته وو ایه چی سهراب اول**

**نمره شوی ورته موبایل واخله او هو رښتیا په یاد می شول**

**مور ته می وویل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**موری هغه ګاونډۍ څنګه راځي او کنه؟**

**مور می وویل:**

**نه ولا ځویه دا دوه ورځی کیږي هیڅ درک یی نشته خدای شته چی ډیر**
**می زړه خراب شو په دی خبری ما ویل هلکه داسی نه چی درنه خفه شوی وي.**

**خو نور نو ماته کور خوند را نکړو بهر ته ووتم**
**او لاړم د خپل ورکشاپ ته هلته هم د پیرودونکو ګڼه ګوڼه وه.**

**لږ خفه غوندی وم په دی وخت کی استاد صدیق غږ کړل:**

**وه هلکه ستا څه بیرۍ غرکه ده. چی په سوچونو کی ډوب یی.**

**ما ورته وویل: نه نه استاده کومه خبره نشته.**

**هغی وویل:**

**نو څومره درته غږ کوم او ځواب نه را کوی.**

**ما وویل:**

**هڅی می لږ په سر درد دی. ویل یی ښه که کومه خبره وي**
**ما ته ووایه بیا ته خو زما د سترګو په وړاندی را لوی شوی شرمیږه مه.**

**نور ما هم ورته ټوله کیسه بیان کړه.**

**خو استاد صدیق هم وویل:**

**نه نه داسی خبره نده چی پری خفه شی**
**بس انجونی لږ څه نخری کوی خو خدای مهربانه دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ما ورته وويل:**

**فکر دی وی استاده چی پلار جان می پر ما خبر نده احتیاط کوه. هغه هم ډاډ راکړو ویل بی غمه اوسه.**

**زه مابښام کورته راغلم سلام می ټولو ته وکړ..**

**د شپی ډوډۍ مو وخوړه چای مو وڅکه**

**زه ولاړم خپلی کوټی ته مونځ می وکړ او دعا می هم وکړ.**

**خپل ځای کی می ځان واچوو او ځان سره وایم**

**چی هلکه کله چی سهار تلی ښوونځي ته د هغوي د کور دروازه**

**وټکوه او پوښتنه وکړه خو بیا هم نکیده همداسی په سوچونو کی خوب یوړم.**

**یوه ورځ کور کی سودا خلاصه شوی وه مور می را وویل:**

**سهرابه ځویه دا پیسې واخله او چی کله راتلی نو ځان سره سودا راوړه.**

**ما وویل:**

**سمه ده زما خوږی مور جانی.**

**زه همداسی ووتم زموږ هم همدا یوه لاره وه چی د هغی د کور**

**مخ نه تیریده عمومی سړک ته کله چی کوڅی سر ته نږدی شوم ګورم چی**

**هغه په دروازه کی ولاړه ده زما زړه نور په درزیدو شو خو توکل پخدای ورغلم.**

**کله چی د هغوی د دروازی مخی ته ورسیدم ...**

**نو ترپ شو لیک یی را ته خطا کړو او ژر یی دروازه بنده کړه.**

**ما هم ژر لیک جیب ته که خو په دی ورځ هم خوشحاله او هم نا قراره وم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لاړم ښار ته په ګرزیدو ګرزیدو می..**

**سودا می ټوله واخیسته او بیرته د کور په لوری روان شوم.**

**په ټوله لاره کی همدا سوچ می کوه که هغی راته نه ویلی وي بیا خو نو دا ټول کلی پریږدم اوله دی ملکه ځم خو بیا می هم ویلی چی نه سهرابه داسی به هغه هم نه کوی چی ستا زړه مات کړی. خو ځه خدای مهربانه ده.**

**په سوچونو سوچونو ورسیدم کور ته سلام می واچوه.**

**ټوله سودا می مور ته وسپارله او لاړم خپل کوټی ته کله چی ځان می ښه راحته کړو بیا نو جب ته لاس کړو لیک می اوباستلوداسې یی لیکلی وو:**

**وَعَلَيْكُم السَّلَام وَرَحْمَةُ اَللهِ وَبَرَكَاتُهُ**

**مننه دا چی تا اول زما د روغتیا پوښتنه وکړه.**

**شکر زه ښه یمه او بل دا چی تا ما ته د خپل د زړه خبره کړی**
**وه نو ته څه فکر کوی چی آیا زه زړه نلرم او یا په مینه او محبت نه پوهیږم.**

**نو که ما تا سره مینه نوه کړی ستا دا لیک ما نه وه اخیستی که می مینه درسره نه درلود په هغه ورځ به می شکولی زه هم مینه در سره لرم ..**

**او دا بیت یی لیکلی وه**

**(ستا غوندي جانان مي نصیب شوی ده)**

**(ولـــي بـــه سـړی اسمان تـه نـه ګـوري)**

**د بیا لیدو په هیله زما سهراب جانه.**

**داسی ورځ ورسیدی چی زه هم د دولسم ټولګی نه په عالی درجه فارغ شوم ..**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او هغه هم فارغه شوه او ما نور نو په ښار کی د کانکور آمادګی پیل کړو**
**ما به هم په بشپړه توګه په امادګی خپله هڅه کوله زما د مور جانی او پلار جان**
**دا هیله وه چی زه په آینده کی یو تکړه ډاکتر شم.**

**ورځی او شپه می پر ځان یوه کړی وه ..**

**او خپل درسنو کی می ډیر هڅه کوله او همداسې**
**خپل مینه می هم کوله په لیکونو مو د یو او بل احوال اخیستو**
**ځکه چی زه به ماښام له ښاره راتلم نو ما سره به زیات وخت نه وو**

**کله به می چی لیک ولیکه**

**نو د هغوی د کور مخی ته می وغرځوه هغی به لیک واخیستو او لوسته به یی او**
**کله چی زه ماښام په لاره تیریدم هغی به راته لیک مخی ته غوځوه خو همداسی**
**زموږ مینه هم روانه وه.**
**یوه ورځ ما ته یی په لیک کی لیکلی وو**
**چی آیا تا تراوسه ما نه پوښتنه وکړه.**

**چی ته څومه نمره فارغه شوی آیا تا ما ته کومه ډالی واخیسته نو ما هم ورته**
**داسی ولیکل تا هم ما ته کومه ډالی اخیستی؟**

**او سهار چی تللم نو لیک می ورته وغورځوه ..**

**او لاړم ښار کی اول د کانکور امادکی ته لاړم ښه خوندور درس مو وویلی پس له**
**هغی نه راغلم ورکشاپ ته او تر ماښامه د پیرودونکو سره مصروف وم.**

**کله چی کوڅی ته داخل شوم هغه را ته په دروازه کی ولاړه وه**

**او په یو پاکټ کی یوه جوړه**
**تور رنګ جامی او یو لیک یی راکړو او په منډه لاړه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زه هم کور ته راغلم**

**مور مى دروازه خلاصه كړه سلام مي واچوه لاسونه مى ورته ښكل كړل**
**او راغلم كوټې ته ډوډۍ مو وخوړه چاى مو وڅكه او زه خپلى كوټى ته راغلم**
**مونځ مى وكړو بيا نو اول مى ليک خلاص كړو ليكلى وو:**

**ګرانه زه پوهيږم**

**ته اول نمره فارغ شوى يى دا دى هم يوه وړه غوندى ډالى**
**اوس ته ووايه زه خو ولا دوهمه نمره فارغه شوى يم دا ټول ستا د ستركو اثروو**
**په اخرو كى هيڅ مى درس نه ويلى اوس نو ته ما ته څه اخلى .**

**زه هم په سبا باندى كله چى ښار ته تلم نو ما ځان سره وويل:**

**چى د انجونو به څه خوښيږى.**

**مور ته مى هم څه نشو ويلى چى د انجونو څه خوښيږى**
**خو توكل په خداى لاړم كله چى ښار ته ورسيدم نو يو دوكـان ته ورغلم په**

**دوكان كى هم ښه بيروبار وه خو لاړم و ننوتم**

**سلام مى واچوو**

**سوچ وړى وم چى څه واخلم**
**د دوكان په بر سر كى د يوى خور نه مى پوښتنه وكړه.**

**چى وبښى خورى زه غواړم چى يوه ښايسته غوندى ډالى خپله خور ته واخلم.**

**نو د انجو په ذوق نه پوهيږم .**

**هغى راباندى وخندل چى وروره دا ته څه واى خو بلاخره راته يى وويل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چی ته یی کوی یوه ښایسته غوندی جامی هم واخلی هغوی خوشحالیږی**
**خو ماته هم خبره ښه ښکاره شوه هغی خور ته می وویل:**

**یو رنګ ورته انتخاب کړه.**
**هغه هم یوه زنګالی رنګه جوړه انتخاب کړه**
**څادر می هم ورسره نو پیسې می ورکړی دوکاندارته.**

**کله چی ماښام شو ما هم ورکشاپ بند کړو راغلم د هغوی د کور مخی ته دروازی ته نږدی شوم او جوړه می ورته ورکړه.**

**زه راغلم کورته اوه میاشتی پس زمونږ د ښوونځي د کانکور آزموینه اعلانه کړه.**

**نو ما هم ورته ښه ځان چمتو کړی وو.**

**د چهار شنبی ورځ زمونږ آزموینه د کابل په پولیتخنیک پوهنتون کی وو.**

**دوه شپی وروسته سهار وختی مو حرکت وکړو په لس بجو آزموینه پیل کیده.**

**موږ په اتو بجو ورسیدو ټول خلک ورته روان وو..**

**خو ټول ملګري او نور خلک هم راغلل او آزموینه مو پیل شو استادان د هر کس سر ته ولاړ ول زه یی په کیسه کی نه وم ځکه چی ما ډیره خواري کړی وه**

**اول می خپل انتخابونه سم کړل نور می**
**د پارچی حلولو ته شروع وکړه ښه وه ښه پارچه می ورته حل کړه.**

**هر یو چی به خلاص شو نو د آزموینه د صحنی نه به وته ماهم ښه پارچه وکړه او ملګرو ته په تمه وم ټول خلاص شول راغلل او بیرته راغلو ښار ته یو څه وږي شوی وو لږ چپس مو وخوږ راغلو خپلو کورنو ته.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زه هم ډیر ستړی شوی وم نو لاړم خپلی کوټی ته**
**نو قلم او کاغذ می را واخیستو او لیک می هغی ته ولیکه:**

**سلام زما ګرانی نن ورځ می له خیره د کانکور آزموینه وه خو ښه پخیر تیر شو او ما هم ښه پارچه حل کړه او ای ته را ته دعا کوه چی کامیبابه شم ګرانی بیا هم تاسره مینه لرم او بیت می ورته ډالی کړو.**

**(زمـا تنده ستا په یـو نظر شي مات)**

**( زه یــم تـږی تــه اوبــه یــي بختوري )**

**نور زه هم خوب وړی وم سهار د مونځ لپاره مور می را باندی غږ کړو**

**سهرابه ځویه وه سهرابه پاڅیږه چی مونځ به دی قضا شی.**

**زه ژر پاڅیدم او اودس می وکړه مونځ می ادا کړو او دعا می وکړو بیا چای می وڅکو او لیک می هم جب ته واچوه**

**د کوڅی سر ته ورسیدم چی هغی لږ غوندی دروازه خلاصه لیک می ورته ورکړو او زه ترینه روان شوم کله چی ښار ته ورسیدم ورکشاپ می خلاص کړو په دوکان کی می صفایی وکړه ..**

**او خپلی څوکی کیناستم.**

**او په انټرنټ کی می ګوتی وهلی چی ګورم زما د یو ملګری پیغام راغی لیکلی و سلام سهراب جانه د کانکور د ازموینو پایله نن په لس بجو اعلانیږی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ما هم ورته وويل:**

**و عليکم السلام مومند جانه.**

**ښه شوه چې تا راته خبر را کړو کنه زه خو خبر نه وم مننه**

**په خوله دې برکت شه نور زما زړه هم په درزيدو شو چې خدايه ته مې دا هيله پوره کړې.**

**چې زما د مور او پلار هم دا هيله ده چې زه په آينده کې يو تکړه ډاکټر شم نور نو لس بجو ته په طمه شوم**

**دا دوه ساعته را ته دوه کاله ښکاريده خو لس بجې شوې**

**ګورم چې زنګ راغی مومند ويلی:**

**هلکه زه خو د ننګرهار اقتصاد کامياب شوی يم.**

**زه هم خوشحاله شوم مبارکی مې ورته ورکړه او ماته يې وويل:**

**ته څنګه ما ويل ما تر اوسه چک کړې ندی.**

**هغې را وويل:**

**راکه ايډی نمبر دی.**

**ما هم ورکړو  نيم ساعت وروسته يې زنګ وکړو او وويل:**

**اول شيرينی بيا زه به تا ته حال ووايم.**

**ما ويل سمه ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغی عکس راته په مسنجر کی واستوه ګورم چی**
**د کابل پوهنتون طب پوهنځي ته کامیباب شوی وم نور نو د خوشحالی**
**نه پو جامو کی نه ځایدم په دی وخت کی نو**

**زما استاد صدیق وویل :**
**وا هلکه سهرابه څه خبره ده .**

**ما ویل ورته..**

**زه د کابل طب پوهنځی ته کامیبابه شوی یم استاد هم راته مبارکی راکړه او دری**
**زره افغانی انعام یی هم راکړو وویل:**

**کور ته لړ څه خواږه یوسه!**
**ما ویل سمه ده.**
**ماښام نه مخکی استاد اجازه راکړه په ښار کی می میټایی کیک او کلچی واخیستی**
**او راغلم کور ته کله چی کوڅی سرته ورسیدم**

**لړ می تری خپلی ګرانی ته ورکړه هغه هم پوه شوه چی سهراب خپلی خوښی**
**پوهنځی ته کامیابه شوی او راغلم کور ته مور ته می وویل:**

**چی مور جانی ځوی دی د کابل طب پوهنځی ته کامیابه شوی نور نو مور می**
**کلک په غیږ کی ونیولم او ښه ډیر یی ښکل کړم او مبارکی راته راکړه.**

**ما ته یی وویل:**

**خواږه دی ځان سره راوړی او کنه ما ویل هو هغه جګه شوه په کوڅه کی یی**
**خواږه وویشه. ټول ملګري می مبارکی ته راتلل ما هم ورنه مننه کوله.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په سبا باندی تلم ښار**

**ته چی د پوهنتون د اړتیا شیان واخلم کوڅی سرکی راته ولاړه وه..**

**لیک یی راکړو او بیرته لاړه.**

**زه هم لاړم ښار د اړتیا ټول شیان می واخیستی او ورکشاپ ته لاړم..**

**ډیر خوشحاله وم ښه په خوشحاله را باندی ماښام شو**

**زه نور راغلم کور ته پلار می هم له دندی نه راغلی وه سلام می واچوه.**

**پس له سلامه وروسته پلار جان می هم مبارکي راکړو**

**ډوډۍ هم تیاره شوه نوش جان مو کړ.**

**پلار می راته یوه ښایسته جوړه کړی وه او وویل:**

**له خیره سهار ته ځان چمتو کړه پوهنتون ته ما هم ویلی سمه ده.**

**لاړم مونځ می وکړو او ویده شوم.**

**سهار ته می ځان چمتو کړو لاړم کابل پوهنتون ته کله چی ما د هغه ځای فضا او ماحول ولیدلو نو ډیر می خوښ شو او خدای نه می شکر ادا کړو**

**خو ټول محصیلین خپلو ټولګي ته لاړو د طب پوهنځي عمومی مدیر راغی او ټولو ته په ورین تندی ښه راغلاست وویل.**

**او همدارنګه ټول قوانین یی موږ ته بیان کړل خو په خپل وار سره ټولو استادانو او محصیلینو ځانونه ورو پیژندل.**

**اوله ورځ همداسی تیره شوه**

**په دولسو بجو رخصت شو او زه سیده به راتلم خپل ورکشاپ ته**

**تر ماښامه به می خپله مستریتوب هم کوله خو کله چی ماښام شو نو دوکان می بند کړو راغلم کور طرف ته کوڅی ته چی ورسیدم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغی راته لیک را کړو.**

**ما به اکثره وخت مونځ په دوکان کی کوه چی قضا نشی**
**راغلم کور ته ټول ناست وو ډوډۍ تیاره شوه پلار می رانه پوښتنه وکړه**
**څنګه وه؟**

**اوله ورځ ما وویل بس شکر ښه وه ښه تیره شوه نور زه لاړم**
**اولیک می را واخیستو داسی لیکلی وو..**

**سلام ګرانه!**
**زه هغه ورځ پوهه شوم چی تا راته خواږه راکړل.**

**ای ما درته هر شپه دعا کوله ودی لیدوخپل د خوښی پوهنځي ته کامیابه شوی**
**اوته پوهیږی؟**

**هغه زما وروور چی په ننګرهارکی پوهنتون ویلی**
**هغه هم سبا ته له خیره فارغیږي**

**ته څه فکر کوی چی زه ورته څه واخلم**
**جامې او که یو ښایسته غوندی ساعت ورته واخلم ته به زما وروور سره حتمن**
**روغبړاوملګرتیا کوی که نه نو ډیره ګرانه به وي.**

**رښتیا هغه بله ورځ ستا مور زموږ کورته راغلی وه.**
**او ما هم ښه قدر او عزت یی وکړو ما ویل:**

**که خدای کړی وی زړه یی لاسته راوړم او ستا د مور اینګور شمه چی رښتیا**
**وو ایمه ستا د مور اخلاق می هم خوښ شو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خو شپې ورځې همداسې په چټکۍ سره تیریدې..**

**ما هم خپل درسونو کې هڅې کولې یو سمستر پخیر سره پای ورسیدو**

**زه هم پکې دوم نمبر راغلم.**

**پس له پوهنتونه به ورکشاپ ته به تلم**

**ماښام به کور ته راتلم کلی ته د هغې ورور هم راغلی وه.**

**یو ورځ نو د جمعې مبارکه ورځ لاړم جومات ملا صیب جمعه ورکړه**

**زه نور رو رو روان وم چې هغې ورور هم راپسې وو...**

**یو بل سره روغبړ وکړو**

**نو له خبرو معلومیدوډیر پوه او لایقه هلک وه..**

**د کوڅې سر کې د دوی د کور نه ښکته سره ولاړ وو..**

**نو ما نه یې پوښتنه وکړه چې نوم مبارک دی څه دی؟**

**ما وویل:**

**نوم مې سهراب دی.**

**هغه یوه ټوکه هم وکړه چې رستم دی څه کړو؟**

**دواړه سره په خندا شو بیا یې وویل:**

**څه مصروفیت لرې؟**

**ما ورته وویل:**

**زه د کابل پوهنتون د طب پوهنځی د دوهم سمتسر محصیل یم.**

**هغه وویل:**

**ماشاالله خدای همیش همداسې کامیابه لره.**

**ما هم ترینه مننه وکړه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ورته مې زياته کړه پس له وخته د موبايلو مسترۍ هم يم هغه بيا ټوکه وکړه نو بيا زما يوه موبايل خراب دی هغه به په تا جوړ کړم .**

**ما هم وويل:**

**ولې نه په دواړو سترګو نور مو سره مخه ښه وکړه**

**او راغلم کور مور ته مې وويل:**

**ته هغه بله ورځ د ګاونديانو کره تللې وې؟**

**مور مې وويل:**

**هو ښه ځنګه خلک ول ښه خلک ول نور نو مور مې شروع وکړه..**

**چې ځويه ډير ښه خلک دي ټوله کورنۍ با سواده دي**

**د ښځې يوه لور چې زمونږ د کور نه به يې چې اوبه وړه هغې زما يې ډير قدر او عزت وکړو زما هم ډيره خوښه شوه ما ښه ښه نو سمه ده.**

**د شپې قلم او کاغذ مې واخيسته يو ليک مې ورته وليکه ..**

**سلام ګرانې!**

**ستا د ورور سره مې روغبړ ورکړ هغه تا غوندې خوږ او نرم خويه هلک دی او اې هغه لا ماسره ټوکې هم وکړه**

**ما ورته صفا صفا وويلی :**

**چې خدای دې وکړي زړه يې نور هم نرم شي**

**او اې کله چې له خيره پوهنتون مې خلاص شو مرکه در ليږم.**

**نو همداسې زمونږ ملګرتيا او درسونه او بلخصوص مينه ښه په خوښۍ تريده نو زما د آخري سمستر يوه مياشت پاتې شوې وه..**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې نور نو باید د دندې په لټه کې هم اوسم**
**خو بلاخره زه هم د کابل د طب د پوهنځی نه په عالی درجه فارغه شوم.**

**ټول خپلوان او ملګرې مبارکی ته راتلله (حتا) زما د ګرانی ورور**
**هم راته راغی مبارکی راکړه.**

**او یوه ښایسته ساعت یی هم راکړو او د شپې ته یی بلنه هم راکړه**
**چې بیګا ته زما سره میلمه یی.**

**ما وویل:**
**په زړه کی اوس یی نو خوند وکړو.**
**اوس زه څنګه دا یوه کړم چی زه ستاسو ګرانی خور سره مینه لرم.**

**خوما وویل:**
**چی سمه ده شپه شوه زنګ یی راغی وویل:**
**سهرابه لکه چی زما خبره دی له یاده وتی راشه چی ډوډۍ تا ته ماتله ده**
**سل زړه می یو کړو او لاړم موږ لاړو حجرې ته پلار یی هم راغی ورسره**
**روغبړ می و کړو.**

**فرهاد یعنی د جنۍ ورور ورته وپیژندلم ورته یی یاده کړه.**
**پلار جانه دا زما ملګری سهراب نومیږی.**
**او نن د کابل د پوهنتون د طب پوهنځی نه فارغه شو.**

**پلار یی هم مبارکی راکړه مننه می ترې وکړه.**
**فرهاد هم ډوډۍ راوړه ډیر خوندور خوراکونه یی تیار کړي ول**
**ما نو د شرمه ډیر خوراک هم نه کوو..**

**فرهاد به راته وویل:**
**ډاکټره ولی داسی شاته شاته کیږی؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ما وویل:**

**ډیره می وخوړه خو تر ډیر ناوخته پوری ګپ او شپ مو ولګوه**
**نورمو مخه ښه وکړه.**

**راغلم کور ته بیګاه ته خپل ټول تحصیلی سندونه می برابر کړل او سهار لاړم د**
**کابل میوند روغتون ته هلته زما یو ملګری وه هغه را ته دنده پیدا کړه..**

**او زه یی په دنده وګمارلم ډیر زیات مننه می تری وکړه.**
**نور نو بیرته چی راتلم ماښام وه کور ته راغلم..**

**پلار او مور ته می د خوښي پیغام ورکړو**
**چی ځوی مو میوند روغتون کی د استاد په توګه په دنده وګمارل شو**
**یو ځل بیا ټولو مبارکی راکړه.**

**مور می وویل:**
**شکر خدایه مور می پلار ته وویل: اوس نو د هلک د کوژدی غمه وخوره.**

**پلار می وویل:**
**سمه په سبا شپه باندی می مور زما کوټی ته راغله را یی یاده کړه..**
**ځویه که ستا کومه جنۍ خوښه ده ووایه او کنه.**

**موږ درته ستا د کاکا لور کوو ما مه وویل:**
**موری زما هغه جنۍ خوښه ده چی ته یی کور ته تللی وی**
**او ستا قدر او عزت یی کړی وو.**

**مور وویل:**
**سمه ده سبا زه ښار ته تللی وم مور می دا خبره د هغی مور سره کړی وه**
**هغی مور ویلی وو..**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چی سمه ده چی بیګا ته د فرهاد پلار راشی ور سره غږیږم**
**ماښام وو زه هم راغلم کور ته ډوډۍ مو وخوړه**

**مور می راته وویل:**

**چی ځویه زه نن تللی وم دهغی جنی کره خبره می وریاده کړه.**

**مور یی وویل:**

**بیګاه ته یی خپل خاوند سره مشوره وکړي بیا خبر درکوم**
**زه هم پاسیدم مونځ می وکړو دعا می هم وکړه او ویده شوم.**

**سهار به روغتون ته تلم مازیګر راتلم ګورم چی مور می نشته کور کی مازیګر قضا راغله کور او و یي ویل :**

**مبارک دی شه د جنی کورنی رشته را سره ومنله**
**ویلی چی بل سبا مرکې ته را شی زما ټول ملګري او خپلوان راغلل**
**دستمال یی راته راوړه نور نو په کورکی ټن ټکور پیل شو.**

**پس له پینځه میاشتی مو پریکون وکړو**
**واده هم ښه په ټنټکور وکړو اوس نو یوه ښکلی ژوند مو پیل کړ.**

پای

خدای دی وکړي چی ستاسو د خوښی وړ

ګرځیدلي وي

(c) ketabton.com: The Digital Library





ښاغلی محمد صمیم چې د محمد اسماعیل زوی په ۱۳۷۷ لمریز کال کې د لغمان ولایت په الیشنګ ولسوالي کې زیږیدلی دی لومړنی زده کړې یې د کابل ښار په ارزان قمیت سیمه کې په ۱۳۸۴ لمریز کال په غلام محمد فرهاد لیسې کې پیل او په ۱۳۹۶ پای ته ورسوو او په ۱۳۹۸ لمریزکال کې د احمد شاه بابا کثیرالرشتوی انستتیوت څخه یې خپل دوه کلن سند تر لاسه کړی.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**